AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

لیکواله: وتلي ناول لیکونکې: کممندا انګوزي اډیچي
ژباړن: محمد عارف رسولي

۲۰۲۱/۰۱/۱۱

# د یوازې یوې کیسې یا نیمګړو معلوماتو خطر

## د ژباړن سریزه:

نایجیریایي الاصله ناول لیکونکې « کممندا انګوزي اډیچي » نومیږي. هغه چې نولس کلنه وه له نایجیریا څخه امریکا ته د زده کړو لپاره لاړه. هلته یې په (Yale University) ییل پوهنتون کې لیسانس ترلاسه کړ، بیا یې په هاروارد، جان هاپکن، او نورو پوهنتونو کې په ادبیاتو، د افریقا په تاریخ او بشري پېژندنه او نورو علومو کې درسونه ولوستل. ځو نړیوال شهرت لرونکي ناولونه یې ولیکل چې هر یوه یې زیاتې جایزې واخیستلې.
مېرمن کممندا ته تل د مشهورو نړیوالو پوهنتونو لکه هاروارډ، ییل، کمبریج او نورو لخوا بلل کېږي چې په فراغت غونډو کې محصلانو ته خبرې وکړي، همدارنګه هغه په نورو مهمو نړیوالو غونډو کې هم لکه د کامنویلت په غونډو کې د مشرې مېلمنې په توګه خبرې کوي که څه هم تر اوسه زیاته ځوانه ده.
دا وایي چې کیسه ویونکې ده، او د لیکوالۍ زیات وتلی سبک لري چې ځوان لیکوالان ورنه زیات څه زده کولی شي، خو ستونزه داده چې ما غوندي یو کس به ونه توانیږي د دې د لیکلو هنري اړخ او سبک خپلو درنو لوستونکو ته را نقل او وژباړم. خو که څوک له انګریزې ژبې سره بلد وي که انټرنېټ ته سر ورښکاره کړي او ( Chimamanda Ngozi Adichie) ولیکي نو د هغې لکچرونه به ومومي. خو د هغې د ناولونه یوازې د کتاب په شکل او یا په انلاین توګه په (پي. ډي. اف.) توګه پیرل کېدی شي.
دا لاندې مطلب د همدې وتلې لیکوالې د (Ted Talk) د خبرو ژباړه ده. ما دا لکچر د یو څو مهمو لاملونو له کبله وژباړه:

- دا لکچر په مهمه خبره تمرکز کوي چې موږ انسانان د کوم ځای، ملک، خلکو، او یا کوم کس په هکله د کمو معلوماتو چې دا وتلې نړیواله لیکواله یې « یوازې یوه کیسه بولي » په بنا غلط قضاوتونه باید ونه کړو، که نه نو له ناسمو قضاوتونو، تبو (Stereotypes) سره د یوه کس، قوم، سیمې او یوه هېواد په هکله، مخ کېږو.
- دا موږ ته رانښیي چې یوازې یوه کیسه د یو ملت د ذلیله او په بند کې ساتلو لپاره یوه مهمه وسیله ده او د ښکیلاککرو له خوا کارول کېږی.
- د دې د لیکوالۍ سبک خورا مهم دی او زموږ ځوانان ورنه زده کړه کولی شي.
- *زما په نظر د دې لیکوالې خبرې د هر هغه ملت لپاره لکه زموږه اړینې دي، چې څنګه په ځان ویسا او اعتماد وموږي، په هغو لومو یوه شي چې نورو ورته اپینې دي، له ځانه یې بېګانه کوي او په خپلو ناسمو انګیرنو هم یوه شي چې دوی وروسته او ویشلي ساتي.*

## د کممندا لکچر:

زه یوه کیسه ویونکې یم. او زه غواړم چې درته د هغه څه په هکله یو څو شخصي کیسې وکړم چې زه ورته « د یوازې یوې کیسې خطر» وایم. زه د نایجیریا په ختیځه برخه کې د یوه پوهنتون په سیمه کې ستره شوم. زما مور وایي چې ما په دوه کلنۍ کې لوستل پیل کړل، که څه هم زه فکر کوم چې څلور به حقیقت ته نیږدې وي. نو زه یوه وختي لوستونکې وم، او هغه چې ما لوستل د ماشومانو لپاره بریتانیایي او امریکایي کتابونه وو.
زه همدارنګه یوه وختي لیکواله وم، او کله چې ما لیکل پیل کړل، تقریبا اوه کلنه وم، کومې کیسې چې ما په پنسل او رنګه قلمونو په مرسته رسم او ښوولي زما غریبه مور مجبوره وه چې ویې لولي، ما کټ مټ داسې کیسې ولیکلې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

چې لوستلې مې: زما ټول لوبغاړي سپین پوستي او شین سترګي کسان و، هغوی په واورو کې لوبې کولې، مڼې یې خوړلې او دوی د هوا حالاتو په هکله زیاتې خبرې کولې، څومره دا مینه ناکه وه چې لمر راختلی و.

دا په داسې حال کې وه چې ما په نایجیریا کې ژوند کاوه. زه هېڅکله له نایجریا نه بهر نه وم تللې. موږ واوره نه لرله، موږ منګو خوړل، او موږ هېڅکله د هوا په هکله خبرې نه کولې، ځکه هلته یې اړتیا نه وه. زما لوبغاړو زیات بیر څښل، ځکه هغو لوبغاړو چې په بریتانیایي کتابونو کې وو، بیریې څښل. فکر مه کوئ! ما هېڅ مفکوره نه لرله چې بیر څه شی دي. او زیات کلونه وروسته، ما زیاته تلوسه لرله چې د بیرو مزه وڅکم. خو هغه یوه بله کیسه ده.

دا چې څه انځوروي مهمه ده، زه فکر کوم، دا ښیي چې موږ په ځانګړې توګه ماشومان څومره زیات د کیسې تر اغیز لاندې راتلای شو. ځکه ټول هغه کتابونه چې ما لوستي وو لوبغاړي یې بهرني وو، ما په طبیعي توګه منلې وه چې کتابونه په خپل ذات کې باید بهرني لوبغاړي ولري او باید د هغو څېزونو په هکله خبرې وکړي چې ما نه شوای پېژندلی. اوس، کله چې ما افریقایي کتابونه وموندل هر څه بدل شول. هغه مهال زیاتو شتون نه درلود او لکه بهرني کتابونه په اسانۍ نه موندل کېدل.

خو د « چینو اچیبی » او « کامارا لیې» په نومونو لیکوالانو له کبله زه د ادبیاتو په هکله په خپل تصور کې له فکري بدلون سره مخ شوم. ما درک کړه چې ما غوندې خلک، نجونې چې پوست یې چاکلیټ غوندې وي، د چا چې ګړګوټي ویښتان شاته نه شي غوټه کېدی، هم په ادبیاتو کې ځای لرلئ شي. ما پیل وکړ د هغه څه په هکله ولیکم چې پېژنم یې.

اوس زه له هغو امریکایي او بریتانیوي کتابونو سره مینه لرم چې و مې لوستل. دوی زما خیالونه راوخوځول. دوی زما لپاره نوې نړۍ پرانیستې. خو نا غوښتل شوې پایله یې دا وه چې زه نه پوهېدم ما غوندې خلک به هم په ادبیاتو کې له نورو سره ګډ ځای لرلی شي. نو هغه څه چې افریقایي لیکوالانو زما لپاره وکړل دا و چې: زه یې له دې وساتلم چې یوازې یوه کیسه ولرم، کوم چې کتابونه دي.

زه د یوې دودیزې منځنۍ پاړکي نایجریایي کورنۍ ښځه یم. زما پلار د پوهنتون استاد او مور مې یوه مدیره وه. او ځکه نو موږ به له دود سره سم په کور کې د کار لپاره یو مزدور درلود، چې له کلیوالي سیمو څخه به و. نو چې زه اته (۸) کلنه شوم موږ د کور کارونو لپاره یو هلک وګوماره. د هغه نوم « فیډ» وه. یوازې هغه څه چې مور مې راته ویلي و دا و چې د هغه کورنۍ زیاته بېوزله وه. زما مور به غنم او وریجې، او زموږ زاړه کالي د هغه کورنۍ ته استول. کله به چې ما خپل خواړه نه خلاصول، مور به مې راته ویل، « خواړه د ټول وخوره! ته پوهېږې؟ خلک لکه د فېډ کورنۍ هېڅ نه لري.» نو ما به د فېډ له کورنۍ سره زیاته خواخوږي درلوده.

بیا یوه شنبه، موږ د هغه کلي ته لاړو، او د هغه مور موږ ته یوه زیاته په ښکلا سره وودل شوې ټکرۍ وښودله چې له وچو لښتو د هغه ورور جوړه کړې وه. زه حیرانه شوم. ماته کله هم دا فکر نه و پیدا شوی چې د هغه په فامیل کې به نو څوک په رښتیا کوم څه جوړولی شي. ټول هغه څه چې ما اورېدلي و دا وو چې دوی څومره بېوزله و، نو زما لپاره ناممکنه شوې وه چې دوی بې له فقره په بل شکل وګورم. ***د هغوی بېوزلي زما یوازینۍ کیسه وه د دوی په هکله***.

کلونه وروسته، ما د دې په هکله فکر کاوه، هغه وخت چې ما نایجریا پرېښوده تر څو په امریکا کې پوهنتون ته لاړه شم. زه ۱۹ کلنه وم. زما د کوټې امریکایۍ ملګرې زما په لیدو حیرانه وه. هغې له ما وپوښتل چې انګلیسي د چېرې دومره ښه زده کړې، او لا نوره مشوشه وه چې ما ورته وویل انګریزي د نایجریا رسمي ژبه ده. هغې له ما وپوښتل چې د دې په قول زما « قبیلوي موسیقي» واورې، او وروسته زیاته ناهیلې شوه کله چې ما د « ماریه کېرې» کسیت ورته وړاندې کړ. هغې داسې فکر نه شوی کولی چې زه به له نغري (منقل) څخه کار اخیستی شم.

څه چې ما ته زیات مهم او حیرانوونکي په نظر راغلل دا وو: هغې مخکې له دې چې ما ووینې زما په هکله یې کیسې په فکر کې درلودې. د هغې لمړی سوچ زما په هکله، د یوې افریقایي په توګه، له ما څخه د لوړتیا او خواخوږي، وه. زما د کوټې ملګرې د افریقا په هکله یوازې یوه کیسه لرله: د فاجعې یوه یوازینۍ کیسه. په دې یوازینۍ کیسه کې، د دې هېڅ امکان نه و چې افریقایان به نو په کوم څه کې له دې سره شباهت ولري، یوازې تر خواخوږي وراخوا یې په هېڅ لاره د افریقا په هکله د کوم پېچلي احساس امکان نه لیده او د مساوي انسانانو په توګه یې هېڅ کومې اړیکې سوچ ته لاره نه کوله.

زه باید ووایم مخکې له دې چې زه امریکې ته لاړه شم، ما په شعوري توګه ځان افریقایي نه پېژانده. خو په امریکا کې، هرکله چې افریقا یادېده، خلکو ماته کتل. که څه هم ما داسې کوم ځایونه لکه نامیبیا او د افریقا زیات نور ځایونه نه پېژندل. خو زه له دې سره مخ شوم چې دا نوی تشخص او پېژندګلوي خپل کړم، په زیاتو لاملونو دا وخت ما خپل ځان افریقایي وباله. خو بیا هم تر اوسه زه دا خبره زیاته خواشینوونکې بولم چې افریقا ته د یوه هېواد په توګه کتل کېږي، تر ټولو وروستی مثال یې دا دی چې کله زه دوه ورځې مخکې له لیګاس ( د نایجریا پلازمینه) څخه د ورجین په نامه هوایي کرښې په الوتنه کې، چې له نورو اړخونو خورا ښه وه، یو اعلان د الوتنې په وخت د خیریه کارونو په هکله په « هند، افریقا او نورو هېوادونو» کې وشو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

نو کله چې ما په امریکا کې د یوې افریقایۍ په توګه یو څو کاله تېر کړل، ما پیل وکړ چې زما د کوټې د ملګرې غبرګون له ځان سره درک کړم. که زه په نایجریا کې نه وای لویه شوې، که کوم څه مې د افریقا په هکله پېژندلی یوازې له مشهورو انځورونو وی، ما به هم فکر کاوه چې افریقا یو داسې ځای دی چې ښکلې سیمې او مناظرې لري، ښکلي ځاروی لري او له درک او هوښیارتیا څخه خالي خلک لري، چې بې مفهومه جګړې کوي، د فقر او ایډز له کبله مري، د دې توان نه لري چې د ځان په نمایندګۍ خبرې وکړي او انتظار کوي چې د یوه مهربانه سپین پوستي بهرني په مرسته خوندي وساتل شي. که ما نایجیریا نه وی لیدلی او هلته نه وی لویه شوې، ما به افریقائیان همداسې لیدلی لکه، د یو ماشوم په توګه، مې چې د فېډ کورنۍ لیدله او دا به مې د افریقا په هکله یوازینۍ له کمښتونو او خطره ډکه کیسه وی.
زه فکر کوم، د افریقا دا یوازینۍ کیسه په پای کې له غربي ادبیاتو رابرسېره کېږي. اوس، دلته د لندن د یوه تاجر چې جان لاک نومېده او چا چې تر غربي افریقا پورې په کال«۱۵۶۱» ام کې په بحر کې سفر وکړ، له لیکنې چې یو په زړه پورې راپور یې له دې سفره وړاندې کړی، یوه خبره را اخلم. کله چې دی تورپوستي افریقائیان د « وحشي ځناورو چې کورونه نه لري،» په توګه یادوي، لیکي، « هغوی هم خلک دي چې سرونه نه لري، د دوی خولې او سترګې د دوي په سینو کې دي.».
اوس، ما چې هر ځل دا لوستي ورته خندلي مې دي. او یو کس باید د جان لاک خیال تحسین کړي. خو هغه څه چې د ده په لیکنو کې مهم دي د افریقائیانو په هکله د غربیانو د کیسو د پیل څخه نمایندګي کوي: داسې یو دود چې د افریقا صحرا یې د منفي، توپیر لرونکو او تورو تیارو خلک یاد کړي، څوک چې د « روډیارډ کېپلنګ » غوره شاعر په لیکنو کې « نیم شیطان او نیم ماشوم » دي.
او له دې کبله، ما پیل وکړ چې درک کړم زما د کوټې امریکايۍ ملګرې به حتما په خپل ټول ژوند کې د همدې یوازینۍ کیسې مختلف دولونه لیدلي او اورېدلي وي، دې یو استاد درلود چې یو ځل یې ماته وویل چې زما ناول پوره « اصلي افریقایي» نه و. اوس زه بلکل دا منم چې په هغه ناول کې ځینې خېزونه ناسم و، هغه په ځینو ځایونو کې پاته راغلی و، خو زه په دې پوه نه شوم چې څنګه هغه په کوم څه کې چې افریقایي اصلیت ورته وویلی شو پاته راغلی و. په حقیقت کې زه نه پوهېدم چې افریقایي اصلیت څه شی و. زما استاد راته وویل چې زما لوبغاړي کټ مټ لکه دی داسې دي، چې یو تعلیم لرونکی او د منځنې پاړکي سړی و. زما لوبغاړي موټر چلاوه. هغوی له لوږې نه مړه کېدل. نو ځکه د ده په اند دوی اصلي افریقائیان نه وو.
خو زه باید زر ورزیات کړم چې زه هم کټ مټ همدومره د یوازې یوې کیسې په هکله ګنهکاره یم. یو څو کلونه مخکې، زه له امریکا مکسیکو ته لاړم. په هغه وخت کې په امریکا کې سیاسي چاپېریال له فشاره ډک و، او هلته ګرم بحثونه د مهاجرت په هکه کېدل. لکه چې زیات وختونه په امریکا کې پېښېږي، مهاجرت د مکسیکو له خلکو سره مشابه او یوه معنی لرله. د مکسیکو د خلکو په هکله زیاتې نه تمامېدونکې کیسې شته څوک چې په روغتیایي سیستم کې درغلي کوي، له سرحده په غلا تېرېږي، په سرحد کې نیول کېږي، دا ډول څېزونه.
زما په یاد دي چې زما د سفر په لمړۍ ورځ مې په « ګواډلره » کې قدم واهه، لیدل مې خلک کارونو ته ځي، په بازار کې په کار اخته دي، سګرېټ څکوي، خاندي. زما خپل لمړی احساس مې په یاد دی چې تعجب مې وکړ. او بیا، زه په زیات شرم کې غرقه او شرمنده شوم. ما درک کړه چې زه دومره زیاته د رسنیو په هغو تبلیغاتو کې چې د مکسیکو د خلکو په هکله و ډوب شوې وم، چې یو څه په فکر کې لري او هغه یوازې د مهاجرو ناهیلي او بد حالت و. ما په رسنیو کې او زموږ په سوچونو کې د مکسیکو د خلکو په یوازینۍ کیسه کې فکر کړی و او زه تر هغو نوره زیاته نه شوی خجالت او شرمېدلی. په دې توګه دا هغه څه دي چې څنګه یوازې یوه کیسه خلق کړو، خلک د یو شي په توګه وښیو، یوازې لکه یو شی، بیا بیا دوهم ځل، او دا هغه څه دي چې دوی په ذهن کې کېږي.
دا ممکنه نه ده چې د یوازینۍ کیسې په هکله خبرې وکړو بیله دې چې د قدرت په هکله څه ونه وایو. یوه کلمه ( لغت) شته، د اګبو (Igbo) لغت، چې زه یې تل په هکله فکر کوم کله چې زه د نړۍ د قدرت د جوړښت په هکله فکر کوم، او دا نکالي (nkali) دی. دا یو نوم دی په ساده معنی ژباړل کېږي چې « تر څو تر بل ستر وي.» لکه زموږ د اقتصادي او سیاسي نړۍ، کیسې هم د نکالي د اصولو په مرسته تعریفیدلی شي: څنګه هغه ویل شوې، څوک یې وایي، کله ویل شوې، څومره کیسې ویل شوې، په رښتیا په قدرت پورې تړاو لري.
قدرت هغه توانمندي ده چې نه یوازې د یوه بل کس یا ولس او یا ملت کیسه ووایو، بلکه چې د هغه کس یا ولس او ملت یوازینۍ کیسه یې وګرزوو. فلسطیني شاعر« بورید برغوتی» لیکي چې که تاسو غواړی کوم خلک محروم کړئ، تر ټولو ساده لاره یې داده چې د دوی کیسه ووایې او چې پیل وکړې له، « همدارنګه »، (ژباړن: یعنې بنسټیزې اصلي خبرې پرېږدې او پیل وکړې په دوهم لاس حاشیوي رښتیا او درواغو خبرو). کیسه د بومي امریکایانو له غشو وکړه، نه د بریټانویانو له رارسېدو، او تاسو به په ټوله معنی بېله کیسه ولرئ. کیسه د افریقایي دولت له ماتې وکړه، او نه د ښکېلاک په واسطه د افریقایي دولت له جوړېدو، او تاسو به بلکل یوه بېله کیسه ولرئ. ما په لنډ تېر وخت کې په یوه پوهنتون کې خبرې کولې چېرې چې یوه زده کړیال راته وویل: د شرم خبره ده چې د نایجریا سړي په فزیکي توګه ځوروونکي او معتاد و لکه زما په ناول کې د پلار


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

لوبغاړی. ما ورته وویل چې ما همدا مخکې یو ناول ولوست: « امریکایي سایکو/ رواني ناروغ.» -- او دا یو ستر شرم و چې ځوان امریکایان متکرر قاتلین وو. اوس، روښانه ده ما دا خبره یوه زړه بدوالي ته د یوه مناسب ځواب په توګه وکړه، « ژباړن: یا کیسه د افغانانو له تروریستي فعالیتونو وکړه نه له دوو پېړیو راهیسي د سترو لوبو رانیولې تر اوسه او په تېره د څلورو لسیزو راهیسې نړیوالو دسیسو، چې موږ د نورو په وړاندې او په خپلو منځو کې سره وجنګول شوو، تاسو به بلکل بېله کیسه ولری.»

خو دا به ماته هېڅکله نه وی پېښه شوې چې داسې فکر وکړم یوازې له دې کبله چې ما داسې ناول لوستی و په کوم کې چې متکرر قاتل لوبغاړی و او هغه به نو د ټولو امریکایانو نماینده و، نه هېڅکله نه. دا د دې کبله نه ده چې زه تر هغه شاګرد ښه انسان یم، مګر د امریکا د کلتوري او اقتصادي توان له کبله، ما د امریکې ډېرې کیسې لرلې. ما « ټایلر او اپټدایک » او سټاینبېک او ګېټ سکېل » لوستي و. ما د امریکا یوازې یوه کیسه نه لرله بلکه له زیاتو سره یې اشنا وم.

کله چې ما واورېدل، څو کلونه مخکې، د دې لپاره چې کوم لیکوال بریالی شي، نو باید په رښتیا یې خواشینی ماشومتوب تیر کړی وي، ما شروع وکړه چې فکر وکړم څنګه زه ویروونکي څېزونه له ځانه جوړولی شم چې زما مور او پلار به ګواکي له ما سره کړي وي. خو حقیقت دادی چې ما زښته زیات خوشاله ماشومتوب درلود، چې په یوه زیاته سره نېږدې وودل شوې کورنۍ کې له خندا او مینې ډک و.

خو ما داسې نیکه درلوده چې د مهاجرو په کمپونو کې مړ شو. زما د تره زوی ومړ ځکه هغه مناسب روغتیایي مراقبت ته لاسرسی نه درلود. یو زما تر ټولو نېږدې ملګرو، اکولوما، د الوتکې په رالوېدو کې مړ شو ځکه زموږ د اور وژنې وسیلو اوبه نه لرلې. زه د جابرو نظامی حکومتونو لاندې ستره شوم کومو چې تعلیم ته کم ارزښت ورکاوه، تر دې کچې چې کله خو به زما مور او پلار ته به یې تنخواوې نه ورکول کیدې. او ځکه خو، د یوه ماشوم په توګه، ما ولیدل چې مربا مو له دسترخوانه ورکېدله، بیا به کوچ او د پخلي غوړ له منځه تلل، بیا ډوډۍ خورا ګرانه شوه، بیا وروسته شیدې په ځیره شوې. او تر ټولو زیات، یو ډول دوام لرونکې سیاسي ویرې زموږ ژوندونه اشغال کړل.

ټولې داسې کیسې ما ته هغه څوک جوړوي چې زه په اصل کې یم. خو که یوازې په دې منفي کیسو زیات ونښلم نو زما د تجربې بې خونده کول به وي او د زیاتو هغو نورو کیسو له نظره غورځول به وي چې زه یې جوړه کړې یم. یوازې یوه کیسه (Taboo) «تبو» یا (stereotypes) جوړوي او د دې ستونزه یوازې دا نه ده چې رښتیا نه وي، بلکه هغوی ناتکمیل وي. دوی یوه کیسه یوازې یوه کیسه جوړوي.

دا روښانه ده چې افریقا له ناورینو ډکه لویه وچه ده: هلته زیاتې فاجعې رامنځته کېږي، لکه په کانګو کې ویروونکې زبرزناوې او نورې خواشینونکې خبرې لکه دا حقیقت چې په نایجیریا کې یوازې د یوې دندې لپاره (۵،۰۰۰) کسان غوښتن لیکونه ورکوي. خو نورې کیسې هم شته چې د فاجعو او ناورینو په هکله نه دي، او دا زیاتې مهمې دي، دا کټ مټ همدومره مهمې دي، چې په هکله یې خبرې وکړو، تر څو د یوازې یوې کیسې په لومه کې ګیر نه شو.

ما تل احساس کړی دی چې دا ناممکنه ده چې په مناسبه توګه د یوه کس او یا یوه ځای سره په سمه توګه بلد شو او ورسره معامله ولرو، که د هغه ځای او هغه کس له ټولو کیسو سره ځان اشنا نه کړو. د یوازې یوې کیسې پایلې او عواقب دا دي: دا خلک له کرامته محروموي. دا زموږ د مساوي انسانیت پېژندګلوي سختوي. دا په دې تاکید کوي چې موږ څنګه سره توپیر لرو، د دې په ځای چې څنګه سره ورته او مشابه یو.

نو څه به کیدی که ما د مکسیکو له سفره مخکې، د دواړو خواوو د مهاجرت بحث تعقیب کړی وی، یعنې د امریکا او مکسیکو؟ څه به کېدی که زما مور راته ویلی وی چې د « فیډ » کورنۍ بېوزله خو خواریکښه ده؟ څه به کیدی که موږ داسې یو افریقایي تلویزیوني شبکه درلودی چې د افریقا ډول ډول کیسې یې په ټوله نړۍ کې خپرولی؟ هغه څه چې د نایجیریا لیکوال « چینو اچیبې » یې د « کیسو توازن بولي.»

څه به ښه وی که زما د کوټې ملګرې زما د نایجیریا خپروونکې، محتار بکر، په هکله معلومات لرلی، یو غوره کس چاچې خپله دنده په یوه بانک کې پرېښوده او یوه چاپخونه یې پیل کړه. اوس، دودیزه پوهه دا وه چې د نایجیریا خلک ادبیات نه لولي. هغه موافقه نه لرله. هغه احساسوله هغه خلک چې لیک او لوست کولی شي، وبه لولي، که تاسو ادبیات ورته د دوی د توان سره سم برابر کړئ.

کله چې هغه زما لمړنی ناول چاپ کړ تر هغه وروسته زر، زه په لګاس کې د یوه تلویزیوني کانال دفتر ته لاړمه چې یوه انټرویو ولرم، یوه ښځه چې هلته یې دنده لرله، ماته راغله او راته یې وویل، « زه په رښتیا ستا ناول خوښوم. خو زه یې یوازې پای ته رسېدل نه خوښوم. اوس تاسو باید د هغو پسې د ناول پایله او اغیزه هم ولیکی، او دا هغه څه دي چې پیښ به شي... »

هغې ادامه ورکړه چې راته وواېي: په نتیجه کې یې باید څه ولیکم. زه نه یوازې زیاته خوښه شوم، بلکه زیاته په خوځښت راغلم. دلته یوه مېرمن وه چې د نایجیریا له عادي خلکو څخه وه، څوک چې د خلکو په ګومان لوستونکي نه وو. هغې نه یوازې هغه کتاب لوستی و، بلکه د هغو مالکیت یې هم ترلاسه کړی و، ځانته یې د دې حق هم ورکاوه او دا توان یې په ځان کې لیده چې راته ووایي د ناول په نتیجه کې زه څه باید ولیکم.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

اوس، څه به کیدی که زما د کوټي ملګرې زما د نایجیریایی دوستي « فونمي لینده » په باب معلومات لرلی، چي یوه نه ویرېدونکي ښځه ده څوک چي تلویزیوني پروګرامونه په لګاس ( د نایجیریا په په پلازمینه ) کي چلوي، هغه ویره نه لري هغه کیسي وایي چي موږ غواړو هیرې یې کړو؟ څه به کیدی که زما د کوټي ملګرې پوهېدی د زړه د هغو عملیاتو په هکله چي تېره اونۍ په لګاس کي تر سره شول؟ څه به کیدی که زما د کوټي ملګرې د نایجیریا د نن سبا د پرمختللي موسیقي په هکله، د هغو استعداد لرونکو هنرمندانو په اړه چي په انګریزي او پېډګین، او اګبو او یوروبو [ نایجیریایي ژبې ] سندرې وایي، له جی- زي تر فیله، تر باب مارلي ( د نایجیریا د خلکو کمپوزونه ) د دوی تر نیکونو پوري اثار سره ګډوي.
څه به کیدی که زما د کوټي ملګرې د هغي ښځینه قانون پوهي په هکله پوهېدی چي په وروستیو وختو کي محکمي ته لاړه تر څو هغه قانون وننګوي چي مخکي له دې چي خپل پاسپورت نوی کړي له خپل مېړه اجازه واخلي؟ څه به کیدی که زما د کوټي ملګرې د نالیووډ (ژباړن: د نایجیریا د هالیووډ او بالیوود معادل دی) په هکله مالومات لرلی، چي له نوښتګرو کسانو ډک دی او له زیاتو تخنیکي ستونزو سره سره ستر فلمونه جوړوي، هغه فلمونه چي زیات شهرت لري او د دې ښه مثال دی چي د نایجیریا خلک هغه څه مصرفوي چي تولیدوي یې؟ څه به کېدی که زما د کوټي ملګرې زما د ښکلو ویښتو کرونکي په هکله معلومات لرلی چاچي همدا اوس خپل کار و بار پیل کړ تر څو د ویښتانو کرلو کار وبار پیل کړي، یا د ملیونو نورو نایجیریایي کسانو په هکله یې معلومات لرلی چا چي پیل کړی نوي کار و بارونه (تشبثات) پیل کړي او کله خو ناکامېږي، مګر دوام ورکوي تر څو نوو لوړو نوښتونو ته وده ورکړي.
هر وخت چي زه کور وم  زه د زړه تنګی له معموَلو سرچینو سره مخ کېږم: زموږ ناکامه بیخبنا، زموږ ناکام حکومت، خو همدارنګه زموږ د خلکو له حیرانوونکي مقاومت سره څوک چي بېله حکومته او نه د هغو په مرستو لوړو پوړیو ته رسېږي. زه د لیکوالی درسونه ورکوم په لیګاس کي هر دوبی، او ماته د حیرانتیا ځای دی چي څومره زیات خلک ګډون کوي، څومره زیات خلک مینه لري چي ولیکي، چي کیسي ووایي.
زما نایجیریایي نشروونکي او ما همدا اوس د « فارافینا » په نامه یو غیر انتفاعي سازمان پیل کړی دی، او موږ ستر خوبونه لرو تر څو کتابتونونه جوړ او هغه ورغوو چي لا پخوا شتون لري او د دولتي ښوونځیو لپاره کتابونه برابر کړو ځکه هغوی په خپلو کتابتونو کي هېڅ کتاب نه لري، او همدارنګه د لیکلو او لوستلو د زیاتو زیاتو ورکشاپونو جوړول او تنظیم وکړو،  د هغو خلکو لپاره څوک چي مینه لري زموږ زیاتي کیسي ووایي.
کیسي مهمي دي. زیاتي کیسي مهمي دي. کیسي کارول شوي دي تر څو زموږ خلک محروم کړي او بد یې معرفي کړي، خو کیسي همدارنګه کارول کېدی شي چي زموږ خلک توانمند کړي او انساني او تمدني اړخونه یې رابرسېره او قوي شي. کیسي د خلکو عزت او آبرو له منځه وړلی شي، خو کیسي همدارنګه همغه پیکه شوی عزت او غرور ترمیم او مرمت کولی شي. نور راځئ ولیکو او د خپلو خلکو تولي کیسي ولیکو.
امریکایي لیکوالي « الیس واکر» د خپلو سویلي خپلوانو په هکله لیکلي څوک چي د امریکا شمال ته خوځېدلي دي. دې هغوی له یوه کتاب سره اشنا کړل چي په جنوب کي د ژوند په هکله و چي هغوی پرېښود. « دوی سره کېناستل، هغه کتاب یې په خپله لوسته، ماته یې غوږ نیوه کله چي ما ورته هغه کتاب لوست، او یو ډول جنت بیا وموندل شو.»
زه غواړم چي دا فکر راونغاړم: خبره داده کله چي موږ یوازې یوه کیسه رد کړو، کله چي موږ درک کړو چي هېڅکله د یوه ځای په هکله یوازې یوه کیسه شتون نه لري او سمه نه ده، موږ یو ډول جنت بیا تر لاسه کوو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ